# دين نصيحت دى

د ابو رقيه تميم بن أَوْسٍ الدَّارِيِّ رضي الله عنه نه روايت دى، چې نبي صلى الله عليه وسلم وفرمايل: "دين نصيحت دى" مونږ ووېل: د چا لپاره؟ هغه وفرمايل: "د الله لپاره، د هغه د كتاب لپاره، د هغه د رسول لپاره، د مسلمانو چارواكو او د دوى عامو خلكو ته".

[صحيح دى] [مسلم روايت كړى دى]

نبي صلى الله عليه وسلم خبر وركړى چې دين د اخلاص او رښتينولۍ پر بنسټ ولاړ دى، تر دې چې د الله له لوري لكه څنګه چې فرض شوى، په پوره ډول، بې له نېمګړتيا او دوكې كولو ادا شي. نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ووېل شول چې: نصيحت چا ته وي؟ هغه وفرمايل: لومړى: نصيحت د الله سبحانه وتعالى لپاره، چې عمل ورته په اخلاص سره وكړو، شريک ورسره ونه نيسو، د هغه په ربوبيت، الوهيت، اسماء او صفاتو ايمان ولرو، د هغه امر لوى وبولو، او خلكو ته بلنه وركړو چې ايمان پرې راوړي. دويم: د هغه د كتاب په اړه نصيحت چې قرآن كريم دى چې ايمان پرې ولرو او دا چې د الله جل جلاله كلام او د هغه وروستى كتاب دى، او دا چې دى د ټولو مخكېنيو شريعتونو لپاره ناسخ دى، او درناوى يې وكړو، او په حقه يې تلاوت كړو، محكم حكمونه يې عملي كړو او په متشابهو آيتونو يې ايمان ولرو، د تحريف كوونكو تاويلات يې رد كړو، له وعظونو څخه يې عبرت واخلو، علوم يې خپاره كړو او خلكو ته يې (د منلو) بلنه وركړو. دريم: زموږ د رسول محمد صلى الله عليه وسلم په اړه نصيحت چې عقيده ولرو هغه د ټولو رسولانو وروستى دى او په هغه څه كې يې رښتونى وګڼو چې موږ ته يې راوړي دي، امر يې عملي كړو او له هغه څه نه منع شو چې هغه ترې منع كړې ده، او دا چې د الله تعالى عبادت ونه كړو مګر په هغه طريقه چې هغه راوړې ده، حق يې لوى وګڼو، درناوى يې وكړو، بلنه يې خپره كړو، شريعت يې خپور كړو او د تورونو او تهمتونو پر وړاندې يې دفاع وكړو. څلورم: د مسلمانانو امامانو (واكمنانو) لپاره نصيحت چې په حق كې يې ملاتړ وشي، د واک پر سر ورسره شخړه ونه شي او دا چې د الله تعالى د اطاعت په چوكاټ كې يې اطاعت وشي او غوږ ورته ونيول شي. پنځم: د مسلمانانو لپاره نصيحت چې نيكي ورسره وشي او بلنه وركړل شي، د ضرر مخنيوى ترې وشي او هغوى ته ښېګڼه رسول ښه وګڼل شي او په نيكۍ او تقوا كې ورسره مرسته كول.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/66516